اورهان کوتان - د ترکيې معاصر شاعر

ژباړه: فرهاد وياړ


۰۹ اکتوبر ۲۰۱۲

## د ولسونو د وروږګلوی لپاره

ورونو دا جګړه د نوي نړۍ لپاره ده

دا جګړه د نوي نړۍ لپاره ده

دا وينه

دا ظلم

د نوي نړۍ لپاره

دا صبر

دا کړکه

دا درد

د نوي نړۍ لپاره.

*

په دې غرونو کې د سرو ترانو پر غاړه يې يوه وترله

د ولسونو د وروږګلوی د ګناه په خاطر

په دې غرونو کې د اميندوارو ميرمنو رحم غوځ شو

په دې غرونو کې زموږ بشپړې خپلواکۍ نطفه وترله.

*

په داسې حال کې چې لا د توپکو شپيلۍ تودې دي

موږ ډوډۍ نلرو

مرمۍ نلرو

له تول زيار سره لا د هيلې د کرلو لپاره

کرونده نلرو

مړو مو لکه غرونو سر راپورته کړ

پر ناموس مو تیرې وشو

ورټل شوو

د ماشومانو - میرمنو او ژویو ولړه

او په وینو لړلي کړلیچونه

نه د تیریدو لاره راکوي

او نه هم زمونږ په حال پوهیږي

آه..... آه..... آه.....

د ا ټول د نوې نړۍ لپاره!